**مطبوعاتي اعلامیه**
**په غزني ولایت کې د حزب التحریر یو تن غړی په شهادت رسېدلی دی**

**[۳۳:۲۳]﴿مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ ۖ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا﴾**

*په مومنانو کې ځینې یې نارینه او غیرتي دي چې له الله سره یې خپل کړي تړون کې رېښتیني دي، ځینو له دوی خپل تړون سر ته ورساوه (د شهادت مقام ته ورسېدل) او ځینې یې انتظار کوي او دوی هېڅکله خپل تړون ته بدلون ورنه کړ*

عبد العزیز محمدي چې په غزني ولایت کې د حزب التحریر – ولایه افغانستان فعال غړی و، د سې‌شنبې په شپه د نا معلومو وسله‌والو لخوا په شهادت ورسېد. نوموړی د شپې لخوا له دعوت څخه د کور پر لور روان و، چې نامعلومو وسله‌والو په ډېر وحشت سره د نوموړي لاسونه، پښې او سترګې تړلي او له ربړولو وروسته یې په سترګو کې په مرمیو ویشتلی دی.
حزب التحریر – ولایه افغانستان دا وحشیانه او غیر شرعي عمل؛ ترور او مرموزه وژنه بولي او بیانوي چې د مسلمانانو د ژوند ساتنه د اسلامي دولت اساسي مکلفیت دی چې د اسلامي نظام په تطبیق سره د مسلمانانو ځان، مال، عزت او مقدسات ساتي او په دې توګه خپل دنیوي او اخروي مسؤلیت اداء کوي. خو په هر حال مومنانو له خپل رب سره تړون کړی چې خپل مال، ځان او خپل هر غوره شی د الله سبحانه وتعالی د رضا لپاره د اسلام او د خلافت دولت د حاکمیت په لار کې صدقه کوي.
حزب التحریر په خپله (۷۰) کلنه فکري او سیاسي مبارزه کې ثابته کړې چې پر خپله موخه (د راشده خلافت دولت تاسیس) او دغې موخې ته د رسېدو لپاره پر خپله طریقه (سیاسي او فکري مبارزه) ایمان لري، چې هېڅ ډول زولنو، ځنځیرونو، وژنو او ربړونو دغه ایمان نه کمزوری کړی او نه یې منحرف کړی دی او نه به یې راتلونکې کې کمزوری او منحرف کړي. ان شاء الله!
عبد العزیز د حزب التحریر مخلص او فعال دعوتګر و چې د خلافت دولت د تأسیس له لارې د اسلامي ژوند د بېرته راګرځولو لپاره یې خپل ژوند وقف کړی و او په دې لار کې یې نه ستړې کېدونکې هڅې کولې. هغه له الله سبحانه وتعالی سره پر خپل کړي تړون وفا وکړه. نو د حزب التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر د حزب التحریر ټولو غړو، د اسلام د لارې مبارزینو او ټولو مسلمانانو ته د دې غمجنې پېښې له امله تسلیت وایي. الله سبحانه و تعالی ته دعاء کوو چې د هغه شهادت قبول کړي، د هغه کورنۍ او خپلوانو ته ستر اجر او جمیل صبر ورکړي او د هغه قاتلین رسوا او ذلیل کړي.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**